# الأنفال

**مدنی سورة دی٧٥ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ١

**( ای پیغمبره! خلک) ستا نه د جنګی غنیمتونو په باب پوښتنه کوی( چې څه ډول باید وویشل شی؟) ورته ووایه: د غنیمتونو حقیقی مالکیت، الله تعالی او پیغمبر ته ځانګړی دی( او پیغمبر یې د الله تعالی له امر سره سم ویشی) نو که مؤمنان یاست، له الله تعالی نه وویریږئ او خپل منځی اختلافات اصلاح کړئ او د الله تعالی او رسول اطاعت وکړئ.**

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ
عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢

**ربښتینی مؤمنان یوازې هغه کسان دی چې د الله د نوم له اوریدو سره یې زړونه( له ویرې) ولرزیږی( او د نیکو اعمالو لپاره لا زیات شوق او رغبت پیدا کړی) او کله چې د الله تعالی آیتونه ورته ولوستل شی ایمان یې لاپسې پیاوړی کیږی، او تل پخپل رب باندې توکل او اعتماد کوی.**

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣

**هغوی( له اصولو او ادابو سره برابر) لمونځونه کوی او له هغه مال او شتمنۍ څخه چې مونږ ورکړی، په (مناسبه اندازه) ترې صدقه اوخیرات ورکوی.**

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ
وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤

همدوی حقیقی او واقعی مؤمنان دی، د هغوی لپاره یې د رب په حضور کې لوړې درجې، مغفرت او پاکه روزی لیکل شوی ده.

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ٥

( د غنیمتونو د ویش په باب د ځینو مؤمنانو ناخوښی) کټ مټ هماغسې ده لکه څنګه چې ته خپل رب(په مدینه کې) له خپل کور نه( د بدر د جنګ په لور) راوویستې او د مؤمنانو یوه ډله( چې پوره تیاری یې نه درلوده) جګړې ته په تللو ناخوښه وه (او په عواقبو یې نه پوهیدل، مګر وروسته ورته ثابته شوه چې د بدر د جګړې نتیجه د مؤمنانو فتحه او برلاسی وه).

يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ٦

( د مؤمنانو دغه ډله) ستا سره د حق ( بدر ته ستا د تللو او د کفارو او مشرکینو سره د جګړې) په باب مجادله او جنجال کوی سره له دې چې د بری وعده هم ورته ثابته ده، بیا هم له جنګ نه داسې ویریږی، ته به وا، د مرګ کومی ته یې سپارې او دوی درته په رڼو سترګو ګوری.

وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧

او ای مؤمنانو( یاد کړئ) هغه وخت چې الله تعالی تاسو ته وعده درکړه( چې یا به د دښمن په لښکر او یا هم د قریشو په تجارتی کاروان بری مومئ) ستاسو ارزو دا وه چې په کمزوری او بې وسلې( تجارتی کاروان) برلاسی وموموئ خو د الله تعالی اراده دا وه چې پخپل فرمان سره حق ثابت، او د جګړې د ډګر کېته د مؤمنانو په برخه کړی او ( د عربستان له خاورې نه ) د کافرانو جرړې وباسی.

لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨

ترڅو حق( اسلام) ثابت او مستحکم، او باطل( کفر او شرک) له منځه یوسی، که څه هم کافر او سرکش مجرمان ورباندی نا خوښه دی.

إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ ٩

**(اى مؤمنانو تاسو چې اوس د غنيمتونو د ويش په سر اختلافونه کوئ) هغه وخت ياد کړئ چې( د بدر په ميدان کې مو د خپلو مسلحو دښمنانو په ليدلو د اضطراب په دعاګانو او زاريو کې) له خپل رب نه مرسته غوښته، او هغه ستاسو دعا ومنله (او درته يې وويل) چې زه به د زرو پرښتو په استولو سره ستاسو ملاتړ وکړم چې نورې دلې به هم ورپسې وي.**

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا
مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ١٠

**د پرښتو له دغې مرستې نه د الله تعالى هدف، تاسو ته ( د فتحې) زيرى او ستاسو په زړونو کې د ډاډ او اطمينان پيدا کول وو، که نه، بريا او فتحه يوازې د الله تعالى له لورى ده( او د هغه اراده تر ټولو وسايلو اوچته ده) ځکه الله تعالى په هر کار برلاسى او په خپلو چارو کې د حکمت څښتن دى.**

إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةٗ مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ
قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ١١

**او هغه وخت راياد کړئ( چې د دښمن له تهديد او د اوبو له سخت کمښت سره مخامخ واست) الله تعالى درباندې د امن او سکون لپاره يو سپک خوب( پرکالى) مسلط کړه او له آسمان نه يې درباندې باران راوورواوه چې تاسو يې ورباندې پاک کړئ او کثافات او د شيطان وسوسې يې درنه ليرې کړې( او په دغه نعمت يې) درله زړونه او مورال پياوړى او قدمونه يې درله ټينګ او ثابت کړل.**

إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ
سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ
ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ﴿١٢﴾

**(ای مؤمنانو)هغه وخت رایاد کړئ چې ستاسو رب پرښتو ته وحې وکړه چې زه ستاسو سره یم نو مؤمنان( له دښمن سره په جګړه کې) پیاوړی کړئ او زه به هم د دښمن په زړونو کې ویره وغورزوم( نو مؤمنانو ته الهام وکړئ چې) د دښمنانو( سرونه او) ورمیږونه ووهئ او بند په بند یې ټوټه ټوټه کړئ.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ
فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿١٣﴾

**دا له الله تعالی او د هغه له رسول سره د دوی د دښمنۍ او مخالفت سزا ده او هر څوک چې له الله تعالی او د هغه له رسول سره دښمنی کوی( باید پوه شی چې)الله تعالی د سختو او شدیدو سزاګانو ورکوونکی هم دی.**

ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٤﴾

**دغه(عذاب او شکست او رسوایی دنیوی سزا ده) چې ویې څکئ،او د کافرانو( اصلی سزا په قیامت کې د دوزخ ) د اور عذاب دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ
ٱلۡأَدۡبَارَ ﴿١٥﴾

**ای مؤمنانو! که د جګړې په ډګر کې د دښمن له لښکرو سره مخامخ شوئ نو په شاتګ ترې مه کوئ (او ترې مه تښتئ).**

وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ
فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ
ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦﴾

**او څوک چې دغه وخت دښمن ته شا کړی( او وتښتی) د الله تعالی له سخت قهر او غضب سره به مخ شی، ځای یې دوزخ دی چې تر ټولو بد استوګنځی دی، خو د جګړې د دوام او د جنګی تاکتیک لپاره سنګر او موقعیت بدلول، له خپلو نورو مجاهدینو سره یوځای کیدل( او د خرپ او ترپ حملې) درته کاملاً جواز لری.**

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِىَ ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ
ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾

**(ای مؤمنانو!) تاسو( پخپل قوت او قدرت سره کافران په بدر کې) نه دی وژلی بلکه دا الله تعالی و چې( د هغوی په زړونو کې یې د رعب په غورزولو او د هغوی د مورال په کمزوری کولو سره تاسو ته بریا درپه برخه کړه او ) هغوی یې ووژل. (ای پیغمبره! کله چې تا په یو موټی شګو، دښمنان) وویشتل، دا په حقیقت کې ستا(بشری) قوت نه بلکه الله تعالی ( په خپل قدرت سره د دغو شګو ذرې تکثیر او د دښمنانو په سترګو ورننه ویستې او کله چې هغوی پخپل غم اخته شول، مؤمنانو ته یې ورباندې د مرګونی حملې زمینه برابره کړه) تر څو مؤمنان په ازمیښت کې بریمن او ورباندې احسان او مهربانی وکړی ځکه الله تعالی( دهغوی د دعا ښه اوریدونکی او( په اخلاص او صداقت یې ښه) پوه ذات دی.**

ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٨﴾

**( د مؤمنانو او کافرانو سرنوشت) همدغه و( چې تاسو ولید) او بیشکه چې الله تعالی د کافرانو د پټو دسیسو ناکامونکی او شنډوونکی دی.**

إِن تَسْتَفْتِحُوا۟ فَقَدْ جَآءَكُمُ ٱلْفَتْحُ ۖ وَإِن تَنتَهُوا۟ فَهُوَ خَيْرٌ
لَّكُمْ ۖ وَإِن تَعُودُوا۟ نَعُدْ وَلَن تُغْنِىَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ
ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾

( ای مشرکانو) که تاسو( د حق) د اثبات او برلاسی غوښتنه کوله نو دادی حق او حقیقت برلاسی شو، دا ستاسو لپاره غوره ده چې(وربانديې ایمان راوړئ او د الله تعالی او رسول له دښمنی نه لاس واخلئ) او که بیرته( د دښمنئ او عناد لور ته) وګرزئ مونږ به هم دربانديې عذاب نازل کړو، او د شمیر زیاتوالی، تاسو( د الله تعالی له عذابه) نشی خلاصولی ځکه چې الله تعالی د مؤمنانو ملګری او ملاتړی دی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْا۟ عَنْهُ وَأَنتُمْ
تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾

ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړئ او چې حکم یې واورئ نو( د نافرمانی په توګه ترې) مخ مه اړوئ.

وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

او د هغو کسانو تقلید مه کوئ( چې د تظاهر له مخې) وایی مونږ( ستا خبره اورو) خو په حقیقت کی یې نه اوری( نه یې منی).

۞ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾

د الله تعالی په نزد تر ټولو بد کسان هغه کاڼه او ګونګیان دی چې (نه حق اوریدو ته حاضر دی ،نه حق بیانوی او نه د حق کلام د پیژندلو لپاره) له عقل او پوهې کار اخلی.

وَلَوْ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا۟ وَّهُم
مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

او که الله تعالی( په هغوی کې د هدایت اخستلو استعداد لیدلی) او د کوم خیر طمع توقع ترې کیدی نو( د حقایقو د اوریدو قوت به یې ورکړی وی( او که له دې اوسنی لجاجت او دښمنئ سره) هغوی ته د اوریدو قوت ورکړی بیا به هم د حق په مقابل کې د مخالفت او عناد لاره خپله کړی (ځکه هغوی هیڅکله حق منونکی نه دی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا
يُحْيِيكُمْۖ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ
إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

**اى مؤمنانو! د الله تعالى او پيغمبر هغه دعوت ته لبيک ووايئ چې ستاسو د ( دنيوى او اخروى نيکمرغه) ژوند متضمن دى او په دې وپوهيږئ چې الله تعالى د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حايل دى(او کولى شى چې د انسان ډير خواهشات او ارزوګانې نيمګړې پاتى کړى او دى د مرګ په کومى ورننه باسى، نو بايد د خير په چارو او صالحه اعمالو کې مناسب فرصت ضايع نه کړئ).بيشکه چې تاسو به ټول( د قيامت په ورځ) د الله تعالى عدالت ته احضار شئ.**

وَٱتَّقُواْ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمْ خَآصَّةًۖ وَٱعْلَمُوٓاْ
أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾

**او له هغه مصيبت او عذاب نه ځانونه وژغورئ چې يوازې په ظالمانو پورې به منحصر نه وى( بلکه کافران به د ظلم او مؤمنان به د خپل منځى اختلافاتو او د امر بالمعروف او نهى عن المنکر د پريښودو له امله پخپله قهرى لمن کې راونغاړى) او پوه شئ چې الله تعالى د سختو او شديدو سزاګانو ورکوونکى دى.**

وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى ٱلْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن
يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ
ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٢٦﴾

**او هغه وخت راياد کړئ چې تاسو په ځمکه کې د يوې کوچنى او کمزورى ډلې په حيث پيژندل کيدئ او تل په دې ويره کې واست چې( کافران او مشرکان) به مو اختطاف( او تر شکنجو لاندې ووژنى) خو الله تعالى تاسو ته( په مدينه کې) ځاى او مقام درکړ او پخپله الهى مرسته يې پياوړى کړئ، او له خپلو پاکو( نعمتونو يې) تاسو ته روزى درکړه تر څو يې شکر په ځاى کړئ.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ
وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧

**ای د ایمان خاوندانو! له الله تعالی او رسول سره غداری او خیانت مه کوئ( احکام یې په سر سترګو ومنئ، د پاک رسول اسرار دښمنانو ته په جاسوسی مه رسوئ، د غنیمت په مال ) او پخپل منځی امانتونو کی هم خیانت مه کوئ په داسې حال کې چې ښه پوهیږئ(امانت ساتل واجب دی).**

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ
عَظِيمٞ ٢٨

**او وپوهیږئ چې ستاسو مال او اولاد ستاسو لپاره صرف د ازمیښت وسیلې دی او لوی اجر یوازې له الله تعالی سره دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ
عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩

**ای مؤمنانو! که پخپلو ټولو چارو کې له الله تعالی نه وویریږئ نو تاسو ته به د حق او باطل ترمنځ د تشخیص او تفکیک ( یو ځانګړی لرلید او بصیرت درپه برخه کړی) ګناهونه به درنه ورژوی او ببښنه به درته وکړی ځکه چې الله تعالی د لوی فضل او مرحمت لرونکی ذات دی.**

وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ
وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٣٠

**او( ای پیغمبره! ) یاد کړه هغه وخت چې کافرانو ستا په ضد دسیسې جوړولې او غوښتل یې چې ودی نیسی( او زندان ته دې وغورزوی) یا دې ووژنی، یا دې له خپلې خاورې تبعید کړی( او په راتلونکی کې هم) دغه ډول دسیسې درته جوړوی، او الله تعالی هم ورته د دسیسو سزا ورکوی، بېشکه چې الله تعالی تر ټولو ښه مدبر ذات( او دسیسه جوړوونکو ته د سختې او شدیدې سزا ورکوونکی دی).**

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا قَالُوا۟ قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ
هَٰذَآ ۙ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾

او کله چې دوی ته زمونږ آيتونه لوستل کيږی وايی: اورو يې( خو کومه فوق العاده ځانګړتيا پکی نه وينو) مونږ هم کولی شو دغه ډول آيتونه جوړ کړو، دا خو يوازې د پخوانيو خلکو قيصې دی.

وَإِذْ قَالُوا۟ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ
عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾

او (هغه وخت) راياد کړه چې دوی وويل: ای ربه که دا( قرآن) ستا له لوری په حقه (نازل شوی وی) نو په مونږ باندې( د تيرو قومونو په شان) له آسمانه د تيږو باران راووروه او يا مو په بل کوم دردوونکی عذاب اخته کړه.( دغه دعا چې ابوجهل په کعبه شريفه کې کړې وه، قبوله او يوه نمونه يې د پيغمبر عليه السلام د هجرت نه وروسته په بدر کې وليده چې پخپله ابو جهل او د قريشو نهه شپيته تنه سرداران د بې وسلې مسلمانانو په لاس قتل، او اويا تنه نور په سخت حقارت او ذلت سره اسلامی قواو ته تسليم شول).

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ
وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾

خو تر هغه چې ته( د رحمة للعالمين په حيث) له دوی سره اوسې، او تر هغه چې ( په مکه معظمه کې پاتې شوی کمزوری مؤمنان استغفار وايی او د قريشو کافران د بيت الله په طواف کې « غفرانک») وايی، الله تعالی به وربانديې( لوی او عمومی) عذاب نازل نه کړی.

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ
ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓا۟ أَوْلِيَآءَهُۥٓ ۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾

( يعنی عذاب په همدغو دوو سببونو، نه نازليږی که نه دوی بايد د خپلو شقاوتونو، ظلم او شرارتونو له امله په عذاب اخته شوی وی ) او ولې يې په عذاب اخته نه کړی چې دوی( په ناحقه) مؤمنان له مسجد حرام( او عبادت) نه منع کوی، سره له دې چې( مشرکان او کافران) د مسجد حرام متوليان هم نه دی بلکه د( دغه

مقدس مقام) حقیقی متولیان یوازې پرهیزګاران دی خو زیاتره مشرکان په دې هم نه پوهیږی( چې د مسجد حرام تولیت د دوی حق نه دی).

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾

په بیت( الحرام) کې د هغوی لمونځ او دعا یوازې شپیلی وهل او چکچکې دی نو دا دی اوس دې د خپل پرله پسې کفر له امله( د دنیوی او اخروی) عذاب خوند واخلی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ لِيَصُدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

کافرانو خپله هستی او دارایی یوازې دی ته وقف کړې چې خلک ورباندې د الله تعالی له لارې راوګرځوی، او لا نوره سرمایه به هم( د اسلامی دعوت د مخنیوی لپاره) ولګوی خو د دغه ناوړه عمل آخرنی انجام او عاقبت به پخپله د دوی پښیمانی او شکست وی( او وبه وینی چې دوی له هستی او دارایی سپیره شوی خو اسلامی دعوت په بی ساری توګه پرمخ تللی) او بالاخره به ټول کافران په دوزخ کې سره راټول کړی شی.

لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ ٱلْخَبِيثَ بَعْضَهُۥ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُۥ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُۥ فِى جَهَنَّمَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾

( دغه دنیوی شکست او اخروی عذاب د دې لپاره دی )ترڅو الله تعالی، ناپاکان له پاکو خلکو څخه جلا، او ناپاکان سره ټول یو د بل د پاسه کوټه او دوزخ ته یې ور ټیله کړی. هو همدا خلک( په دنیا او أخرت کې) حقیقی زیانمن دی.

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِن يَنتَهُوا۟ يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن يَعُودُوا۟ فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

کافرانو ته ووایه( د توبې دروازه خلاصه ده) که له کفر نه لاس واخلئ تیر ګناهونه به درته وبښل شی خو که بیرته مو نواهیو ته مخه کړه نو د پخوانیو امتونو په شان به د هستئ له صفحې ورک او نابود شی.

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٣٩﴾

ای مؤمنانو! د کافرانو په خلاف تر هغه وجنګیږئ چې د شر او فساد( خونریزئ او ناامنئ) جرړې وخیژی او د الله تعالی دین په ټوله( نړئ) مسلط او نافذ شی. که هغوی له فساد او فتنو نه لاس واخلی نو( ورسره مه جنګیږئ) الله تعالی یې د اعمالو لیدونکی دی.

وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

او که یې مخ وګرځاوه( او بیا یې د مؤمنانو ځورولو او اسلام ضد اعمالو ته مخه کړه نو پروا یې مه ساتئ او پوه شئ چې) الله پاک ستاسو سرپرست او مرسته کوونکی دی. ښه( ربښتینی) سرپرست او ښه( ربښتینی) مرستندوی.

۞ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾

او پوه شئ هر څه چې په غنیمت ترلاسه کوئ نو پنځمه برخه یې د الله تعالی، پیغمبر، د پیغمبر د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو ده، که ایمان لرئ په الله او هغه څه( د الله تعالی په غیبی تائیداتو، فتحې او نصرت، او ملائکو) چې مونږ د فیصلې په ورځ( یوم البدر) د دوو ډلو( مؤمنانو او کافرانو) د مخامخ کیدو په ورځ نازل کړی، او الله تعالی په هر کار قادر او برلاسی دی( او کولی شی چې یوه کوچنئ ډله په یو لوی او مسلح لښکر غالبه او فاتحه کړی) .

إِذْ أَنتُم بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُم بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوَىٰ وَالرَّكْبُ
أَسْفَلَ مِنكُمْ ۚ وَلَوْ تَوَاعَدتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ ۙ وَلَٰكِن
لِّيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ
وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

او (یاد کړئ د بدر ورځ) چې تاسو(مدینی ته) نږدې(د ځمکې په ټیټه سطحه چې د جګړې لپاره مناسب ځای نه و، سنګرونه نیولی وو) او د دښمن قواوې لیرې( په لوړه پرتې وې چې د جګړې لپاره مناسب ځای و) او(د قریشو) تجارتی کاروان ستاسو نه په ښکته سیمه کې و، او که د مخامخ جګړې لپاره مو ( ځای او وخت) ټاکلی وی نو خامخا به مو وعده ماته کړی وی( تا سو به د خپل شمیر کمښت زړه نازړه کړی وی او دښمن به د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو له هیبته لرزیدلی ) خو الله تعالی ( د یوې نا اعلان شوې جګړې په پیل سره، ستاسو د بری او د دښمن د ماتې لپاره) خپله فیصله او اراده تطبیق کړه. ترڅو ژوندیو ته د اسلام دایمی حقانیت، او وژل شویو ته د کفر او جهالت بطلان په حجت او دلیل سره ثابت شی. بیشکه چې الله تعالی( د هر چا د اقوالو) اوریدونکی او(د هر چا په اعمالو) پوه ذات دی.

إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَاكَهُمْ كَثِيرًا
لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ
بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

او ( ای پیغمبره!) هغه وخت رایاد کړه چې الله تعالی درته په پرله پسې خوبونو کې( هغه کافران چې ستا او مؤمنانو په ضد یې د جنګ اراده درلوده) د شمیر او نظامی قوت او شوکت له حیثه کمزوری دروښودل، او که یې درته زیات او قوی درښودلی وی نو تاسو به بې زړه شوی او مورال به مو بایللی وی او پخپل منځ کې به ( د جګړې په باب) په اختلاف او ناندرو اخته شوی وی) خو الله تعالی تاسو( د دغو خوبونو په وسیله) له اختلافاتو وساتلئ ځکه چې هغه ذات د زړونو په اسرارو ډیر ښه پوهیږی.

وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ
أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ
ٱلۡأُمُورُ ٤٤

**او هغه وخت( یاد کړی) چې الله تعالی درته (د بدر په میدان کې) کافران لږ او کمزوری تر سترګو کړل او تاسو یې هم د هغوی په سترګو کې لږ او کمزوری وبریښولی، ترڅو( ستاسو د بری او د کافرانو د ماتې او رسوایی لپاره) الهی فیصله او اراده تطبیق او عملی شی. بیشکه چې ټولې چارې د الله تعالی حضور ته ورګرځی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ
كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٤٥

**ای د ایمان خاوندانو! کله چې( د جګړې په ډګر کې د کافرانو او مشرکانو) له لښکرو سره مخامخ کیږی نو ثابت قدم اوسی او مورال مو لوړ ساتی او پرله پسې د الله تعالی ذکر کوی تر څو مو بری په برخه شی.**

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ
إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٤٦

**او د الله تعالی او رسول یې اطاعت وکړی او په خپلو منځو کې شخړې او جګړې مه کوی، که نه کمزوری به شی او قوت او دبدبه به مو له منځه لاړه شی( او د دښمن سترګه به درنه، نه سوزی) تل صبر کوونکی اوسی ځکه چې الله تعالی د صبرکوونکو ملګری دی.**

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ٤٧

**او د هغو( قریشیانو) په شان مه کیږی چې په مستی او غرور،( ډولونو او نغارو او خپل مالی او نظامی قدرت او جاه و جلال) په ښودلو سره له خپلو کورونو څخه( د بدر په لور) ووتل او خلک د الله تعالی له لارې( اسلام)نه منع کوی. الله تعالی د دوی په کړنو پوره خبر دی( او سخته سزا به ورکړی).**

وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ
مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ
عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ
أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٤٨﴾

**او شیطان ورته د دوی ناوړه اعمال( چې د پیغمبر او مؤمنانو په ضد دښمنی او جګړه وه) په نظر کې ښه او معقول وځلول او ورته یې وویل: نن( ستاسو د لوی او مسلح لښکر) سره هیڅوک د مقابلې جرأت نشی کولی ځکه زه مو ملاتړی یم. خو کله چې( د مؤمنانو او مشرکانو) دواړه ډلې د جګړې په ډګر کې سره مخامخ شوې، نو دی ترې په شا لاړ او په تیښته تیښته کی یې ورته وویل:( زه ستاسو له ملګرتیا) بیزاره یم، هغه( د پرښتو د لښکر نزول) چې زه یې وینم تاسو یې نه وینئ، زه له الله تعالی نه ویریږم او د الله تعالی عذاب ډیر سخت دی.**

إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ
دِينُهُمۡۗ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٤٩﴾

**او یاد کړئ هغه وخت چې منافقانو او هغوکسانو چې په زړونو کې یې( د شک، کفر او نفاق) ناروغی ده وویل: مؤمنان خپل دین تیرویستلی او لیونی کړی( چې په دې لږ شمیر او لږو وسلو سره په روغ لاس ځانونه د مرګ کومی ته سپاری او د جګړې ډګر ته وردانګی. ) خو( کافران، منافقان اوټول خلک باید پوه شی) څوک چې په الله تعالی توکل وکړی( بریا یې په برخه ده) ځکه الله تعالی نه ماتیدونکی مدبر قدرت دی( او ټولې چارې په پوره تدبیر سرته رسوی او حق ته په باطل بری ورکوی).**

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ
وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٥٠﴾

**او که ته د کافرانو د ځنکدن عذابوونکی منظر ووینې( تعجب او افسوس به وکړې) چې پرښتې یې په مخ او شا وهی ( او په غصه او تهدید ورته وایی:) خوند واخلئ د اور له عذابه.**

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٥١﴾

**دا ستاسو د خپلو بدو عملونو سزا ده او الله تعالی په خپلو بندګانو هیڅکله ظلم نه کوی.**

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ
ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٥٢

**د (دوی ناوړه کردار او رفتار) د فرعونيانو او د دوی د نورو اسلافو په شان و چې د الله تعالی په ( روښانه او مستدلو) آيتونو کافران شول، نو الله تعالی هم دوی د ګناهونو د ارتکاب له امله په سخت عذاب اخته کړل، بيشکه چې الله تعالی پياوړی او د سخت مجازات ورکوونکی ذات دی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا
بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٥٣

**دا ځکه چې الله تعالی هيڅکله هغه نعمت چې يوه قوم ته يې ورکړی( په عذاب) نه بدلوی ترهغه چې هغوی پخپله( خپل حقه عقايد او پاک او حسنه اخلاق په کفر، شرک، عصيان او ګناه) تبديل نه کړی او بيشکه چې الله تعالی( د هرچا د خبرو) اوريدونکی او د هر چا په کړنو خبر او پوه ذات دی.**

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ
فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ وَكُلّٞ كَانُواْ
ظَٰلِمِينَ ٥٤

**له دوی سره د فرعونيانو او نورو اسلافو په شان کړنه کيږی چې د خپل رب آيتونه يې دروغ وګڼل او مونږ هم د ګناهونو له امله تباه کړل او فرعونيان مو ډوب کړل او يقيناً چې هغوی ټول ظالمان وو.**

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٥٥

**(د الله په قانون کې) تر ټولو بد مخلوقات هغه کافران دی چې( د لجاجت او عناد له امله) ايمان نه راوړی.**

ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا
يَتَّقُونَ ٥٦

**د دوی له ځينو ډلو سره تا (څو څو ځل) تړونونه وکړل خو هر ځل تړون ماتوی ( او له الله تعالی څخه) نه ويريږی.**

فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ
يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

نو كه د جګړې په ډګر كې مو په دغه ډول كسانو لاس بر شو، (داسې سخته سزا وركړئ) چې تر شا ولاړ ځواكونه يې هم ترې عبرت واخلي( له ويرې او ترهې تالا ترغى شي او د راتلونكي حملې خيال يې هم له سره ووځي).

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾

او( اى پيغمبره!) كه د كوم( معاهد او هم پيمان) قوم د خيانت(او تړون ماتولو) ويره درسره وى نو ته هم په ښكاره او علني توګه ورسره خپل تړون منسوخ اعلان كړه ځكه چې الله تعالى له خاينانو سره هيڅ مينه نه لري.

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ﴿٥٩﴾

او كافران دې داسې نه انګيرى چې( پخپله وعده خلافى او تړون ماتولو سره) يې كوم برى ترلاسه كړى( او له عذاب نه به خلاص شي) هغوى مونږ ته ماتې نشى راكولى( او نه زمونږ د قدرت له ساحې وتلى شي).

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ
تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا
تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ
إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٦٠﴾

او څومره چې كولى شى نظامى قوت، زين كړى آسونه( او هر ډول عصرى او مدرنې وسلې) تر لاسه كړئ، تر څو پرې د الله دښمنان، ستاسو خپل دښمنان او نور هغه دښمنان تهديد او وويروئ چې تاسو يې نه پيژنئ خو الله تعالى يې پيژني، او هره سرمايه او شتمنى چې تاسو( د اسلامى قواو د پياوړتيا لپاره) ولګوئ،اجر يې په پوره توګه تاسو ته دركړى كيږى او هيڅ ظلم زياتى به درسره ونشى.

۞ وَإِن جَنَحُوا۟ لِلسَّلْمِ فَٱجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلْعَلِيمُ ﴿٦١﴾

**او که( کافران) سولې ته تمایل ښکاره کړی، ته یې هم ومنه او سولې ته مایل شه او په الله تعالی توکل ساته بیشکه چې هغه (د هر چا د خبرو) اوریدونکی او( په اعمالو یې) پوه ذات دی.**

وَإِن يُرِيدُوٓا۟ أَن يَخْدَعُوكَ فَإِنَّ حَسْبَكَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِۦ
وَبِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

**او که دوی وغواړی( چې د سولې په خبرو کې) ستا سره ټګی وکړی نو الله تعالی ستا لپاره کافی دی، هغه ذات چې ته یې لا ېخوا هم په خپل نصرت او د مؤمنانو په مرسته پیاوړی کړی یې.**

وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ ۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ
بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾

**او د مؤمنانو په زړونو کی یې( له یو بل سره) مینه پیدا کړه ، که تا د ځمکې ټوله شتمنی مصرف کړی وی، د هغوی په زړونو کې دې خپل منځی مینه نه شوه پیدا کولی خو دا الله تعالی و چې د هغوی زړونه یې د مینې او وحدت په مزو وصل کړل،بې له شکه چې الله تعالی په هر کار برلاسی او په خپلو ټولو چارو کې حکمت لرونکی ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَسْبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾

**ای پیغمبره! الله تعالی ستا او ستا د متابعت کوونکو مؤمنانو ( د مرستې او ملاتړ لپاره )کفایت کوی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ
عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ
يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

ای پیغمبره! مؤمنان( د الهی احکامو د تطبیق او انفاذ لپاره) جګړې ته وهڅوه. ستاسو شل تنه باثباته او صابرین به( د دښمن) په دوو سوو تنو او سل تنه( صابرین) به مو په زرو تنو(کافرانو) غالب او برلاسی وی، ځکه هغوی داسې یوه ډله ده چې ( د الله په قدرت او د توحید په حقانیت) نه پوهیږی.

ٱلْـَٔـٰنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا۟ مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾

اوس الله تعالی په تاسو آسانتیا راوسته او معلومه یې کړه چې په تاسو کې ناراستی او کمزوری ده نو( د نوی آسانتیا له مخې به) ستاسو سل تنه صابرین په دوو سوو او زر تنه( باثباته او صابرین) به مو په دوو زرو تنو د الله تعالی په مرسته برلاسی وی او الله تعالی د صبر کوونکو( او راسخ العزمو مؤمنانو) ملګری دی.

مَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾

هیڅ پیغمبر ته لازمه نه ده چې( د دښمن په قواو باندې) د پوره غلبې (او په سیمه کې د پوره حاکمیت او سلطې له ټینګښت نه غیر) جنګی قیدیان وساتی( او یا یې د فدیې په اخستلو سره آزاد کړی. د جنګی قیدیانو په آزادولو کې) تاسو یوازی دنیوی بې ارزښته ګټې په نظر کې نیسئ خو الله تعالی تاسو ته اخروی نیکمرغی او ښیګڼه خوښوی. بیشکه چې الله پاک (په هر کار) برلاسی او حکیم ذات دی (او ټول اقدامات یې په خاص حکمت او تدبیر سرته رسی چې ستاسو د عزت او بریا متضمن دی).

لَّوْلَا كِتَـٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

که دا پخوانی الهی فیصله موجود نه وی( چې له وړاندینی ابلاغ نه غیر به په هیڅا عذاب نه نازلیږی او مجتهد ته به هم په اجتهاد کې د سهوې له امله سزا نه ورکول کیږی نو تاسو ته به د جنګی قیدیانو د ساتلو او په فدیې سره د آزادولو له امله) لوی عذاب درکړی شوی وی.

فَكُلُوا۟ مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ
رَّحِيمٌ ٦٩

نو (اوس هغه فدیه چې د جنګی قیدیانو په آزادولو مو) ترلاسه کړی، په ډاډ زړه د حلال او پاک مال په حیث مصرف کړئ ( او شکونه پکې مه کوئ او په خپلو ټولو چارو کې) د الله تعالی(مواخذه) په نظر کې ساتئ، بیشکه چې الله تعالی ببنونکی او مهربان ذات دی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّمَن فِىٓ أَيْدِيكُم مِّنَ ٱلْأَسْرَىٰٓ إِن يَعْلَمِ ٱللَّهُ فِى
قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ
غَفُورٌ رَّحِيمٌ ٧٠

ای پیغمبره! هغو قیدیانو ته چې ستاسو په ولکه کی دی ووایه: که الله تعالی ستاسو په زړونو کې څه نیکی ووینی، نو د هغه مال نه به ډیر درکړی چې درڅخه (د آزادیدو لپاره) اخستل شوی او ببنه به هم درته وکړی، الله پاک ببنونکی او مهربان ذات دی.

وَإِن يُرِيدُوا۟ خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ فَأَمْكَنَ مِنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ
عَلِيمٌ حَكِيمٌ ٧١

او که (دغه قیدیان) وغواړی( له آزادیدو  وروسته) له تا سره ټګی وکړی( نو څه نوې خبره نه ده) له دې وړاندې یې هم له الله تعالی سره خیانت کړی و خو هغه ورباندې تاسو برلاسی کړئ، بیشکه چې الله تعالی په هر څه پوه او د حکمت خاوند دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ
ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ
وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٧٢

هغو کسانو چې ایمان یې راوړی، هجرت یې کړی، په سر او مال یې د الله پاک په لاره کې جهاد کړی او هغو کسانو چې مهاجرینو ته یې پناه ورکړې او د هغو ملاتړ یې کړی نو همدغه خلک پخپل منځ کې رښتینې دوستان دی، او کومو کسانو چې ایمان راوړی خو لا یې هجرت نه دی کړی، نو د دوستۍ هیڅ ډول اړیکی ورسره مه ساتئ تر هغه چې( د الله تعالی په لار کې) هجرت وکړی، خو که همدا خلک د دین په چارو کې( د کافرانو او مشرکانو په ضد ) ستاسو نه ملاتړ وغواړی نو په تاسو یې مرسته لازمه ده په دې شرط( چې ورسره مرسته کول) د هغه قوم په زیان نه وی چې ستاسو ورسره( د متارکې) تړون او تعهدات دی، او( باخبره اوسئ چې) الله پاک ستاسو کړنې وینی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ٧٣

او کافران ټول سره پخپل منځ کې دوستان دی، (که ټول مسلمانان د هغوی په ضد سره یو لاس او متحد نشئ) نو په ځمکه کې به لوی فساد او فتنه راپورته شی.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ
وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٧٤

او کومو کسانو چې ایمان راوړی او د الله تعالی په لاره کی یې هجرت او جهاد کړی او کومو کسانو چې مهاجرینو ته یې پناه ورکړی او د هغوی ملاتړ یې کړی نو همدوی رښتینی مؤمنان دی، د دوی لپاره ببښنه او د عزت نه ډکه پراخه روزی لیکل شوې ده.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ٧٥

**او هغو کسانو( چې د لومړنيو مؤمنانو او مهاجرينو نه ) وروسته يې ايمان راوړی او بيا يې له تاسو سره هجرت او جهاد کړی نو هغوی هم ستاسو په ډله کې شمار دی( ايمان، هجرت او ټول صالح اعمال يې د الله تعالی په حضور کې قبول دی، د مؤمنانو ورونه دی او د مرستې مستحق دی. البته مسلمانان د اسلامی ورورولئ او اخوت له مخې د يو بل په ميراث کې برخه نشی اخستی.) د الله تعالی د کتاب له مخې، خپلوان د نورو په نسبت ( په ميراث کې) زيات حقوق لری، بيشکه چې الله تعالی عليم ذات دی( هر حکم يې د علم او حکمت په بنسټ ولاړ دی او د هر چا حقوق او برخې ډيرې ښې پيژنی).**

**تمت سورة الانفال بفضل الله** ====================